مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۲/۰۱/۰۶

# غزل

د بل په خوښه سوله کړنه د جنګ بل نوم دی
د شېروانی نامه جدا ده د لُنګ بل نوم دی

لړ پونده ورکړه ګونګري ګان دي ورله وشرنګوه
د بل چا ډول ته ګډېدل او د شرنګ بل نوم دی

سپیني سیلی شا ته د تورو ګردو لاس ښکارېږي
هر یو وحشت ته تسلیمي د قلنګ بل نوم دی

کچکول په غاړه دروازه کښې خېر د شونډو غواړي
په مئیو ځان غولوي وایي د بنګ بل نوم دی

مری شوي وچي پسرلیه، ټول ستومانه شولو
خو راپسي نور خطرونه د زنګ بل نوم دی

مصطفی پسرلی
05/Jan/2022



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ